مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۴/۲۱

# پخواني خلک

زما په پروګرام (سخنور) کې تکړه ادیب (انتظار حسین) له شاعر ملګري (ناصر کاظمي) سره خبرې کولې. کاظمي وویل: زما طبیعت له ماشومتوبه عاشقانه و، شعر ویلو به خوښي راکوله، که په کوم بل کار کې مې خوشحالي لیدلی نو شاعرۍ به مې نه کوله!

په پاک ټي هاوس کې د ناستو ملګرو په اړه یې چې تبصره وکړه، نو ویې ویل: هغه خلک چې پیادل و، نن په موټرو کې لیدل کیږي، چې ډنګر و چاغ شول، زما د سترګو په وړاندې یې کورونو کې میلمستونونه جوړ کړل، د چایو لپاره بېل سیټونه لري او خلک کورونو ته د چایو لپاره را بولي. زموږ په وخت کې محفل د ونو د سیورو لاندې کېده او د سرکونو په غاړه به مو هوټل وو.

په دې منځ کې انتظار صیب هغه ته یو ټانګه وان ور یاد کړ. نو ناصر حسین یې ډېر په مینه یادول پیل کړل. ویلې: هغه بابا یادوې؟! اوس مړ شوی، یوه شپه ناوخته له ټي هاوس څخه راوتلم، نرۍ نرۍ باران و، ما چې خالي ټانګه ولیدله نو ورته ومې ویل: کرشن نګر ته مې رسولی شې؟ ټانګه وان ځواب راکړ: باران دی، ما څو سوارلی منع کړې، خو ته دومره ناوخته دلته څه کوې؟

ځواب مې ورکړ: زه شاعر یم او کور ته ځم.

هغه هیله وکړه: که شاعر یې نو کوم بیت راته وو‌ایه.

ما وویل:

واقعہ یہ ہی کہ بدنام ہوئے
بات اتنی تھی کہ آنسو نکلا

ژباړه:

حادثه دا ده چې بدنام شومه
خبره دا وه چې اوښکې مې بېرون راغلې

د شعر له اورېدو سره ټانګه وان را اوچت شو او ویې ویل: اوس دا مه وایه چې بیت ستا خپل دی؟ که وي، نو زه به دې ټول عمر مفت یوسم.

او بیا هغه د مرګ تر ورځې کور ته بولم.

اقتباس: ہم بھی وہیں موجود تھے

لیکوال: اختر وقار عظیم

ژباړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ